# تعریفونه

په دې برخه کې تعریف شوي اصطلاحات په مکرر ډول د کارول شویو اصطلاحاتو استازولي کوي چې په PWCS کې د ځانګړو زده کړو له پروسو سره تړاو لري. دا یو خلاصېدونکی لېست نه دی. دغه تعریفونه له فدرالي مقرراتو څخه چې د معلولیت لرونکو زده کوونکو زده کړې اداره کوي، د 34CFR له 300 برخې، د 2010 کال د جنوري د 25 مې نېټې له اصولو چې په ویرجینیا کې د معلولیت لرونکو ماشومانو لپاره د زده کړو ځانګړي پروګرامونه اداره کوي او د PWCS ځانګړو زده کړو له لارښوونو څخه په لاس راغلي دي.

| اصطلاح | تعریف |
|---|---|
| *Accommodations*<br><br>سمونونه | سمونونه د ارائو، ځوابونو، ترتیباتو او د زده کړې د وخت ځانګړي کولو/ مهالوېش ټاکلو په ساحو کې اقدمات او پروسیجرونه دي چې د زده کوونکو لپاره د ارزونې او زده کړې مساوي فرصتونه برابروي. سمونونه د زده کوونکو د معلولیت اغېزې را کموي، مګر د زده کړې تمې نه را کموي. |
| *Act*<br>قانون | د معلولیت لرونکو د زده کړو د ښه والي قانون، P.L. 108-446، د ډسمبر 3 مه, 2004, §1400 .et seq (34 CFR 300.4). |
| *Administrative Designee*<br>اداري مامور | د ځانګې کارکوونکي ته مراجعه وکړئ چې هغه:<br>• د ځانګړې زده کړې د ډیپارټمنټ له لوري ګومارل شوی وي تر څو د ځانګړې زده کړې د ډایرکټر په استازولۍ عمل وکړي؛<br>• د دې وړتیا لري چې په ځانګړې توګه ډیزاین شوې زده کړې چمتو کړي یا یې نظارت وکړي تر څو د معلولیت لرونکو زده کوونکو ځانګړې اړتیاوې پوره کړي؛<br>• د عمومي نصاب په اړه پوهاوی ولري؛<br>• د ځانګې د سرچینو د شتون په اړه پوهاوی ولري؛<br>• صلاحیت ولري چې د ځانګې له سرچینو سره تعهد وکړي؛<br>• پر شرایطو د برابروالي د پروسو لپاره مسوولیت منونکی وي؛<br>• د وړیا مناسبو عامه زده کړو (FAPE) د چمتو کولو لپاره مسوول وي؛ او<br>• د خورا لږ محدود چاپېریال (LRE) د ډاډمنولو مسوولیت ولري. |
| *Adverse Educational Impact*<br>د زده کړې ناوړه اغېز | په ناوړه تعلیمي اغېز کې د "تعلیمي" اصطلاح اکاډمیک، ټولنیز، عاطفي، خوځښتي، ارتباطي، پېژندګلوي، مسلکي او یا چلندي اغېز ته اشاره کوي چې د تعلیمي ورځې پر مهال څرګندېږي. هغه درجه چې اغېز یې "ناوړه" دی، هغه د قضیو له مخې پر شرایطو د برابروالي د ډلې له لوري ټاکل کېږي. |
| *Age of eligibility*<br>پر شرایطو د برابروالي عمر | ټول هغه پر شرایطو برابر معلول زده کوونکي چې د عالي لېسې له یوه معیاري یا پرمختللي ډیپلوم سره فارغ شوي نه وي، هغه کسان چې د دغه ډول معلولیت له امله ځانګړو زده کړو او اړوندو خدمتونو ته اړتیا لري او هغه څوک چې د زېږون دویمه ورځ یې د سپټمبر له 30 څخه مخکې راځي، او هغه کسان چې د سپټمبر پر 30 مه یا تر دې د مخه خپلې 22 مې کلیزې ته نه وي رسیدلي (له دوه څخه 21 پورې پکې راځي) د ویرجینیا د قانون له مخې. یو معلولیت لرونکی ماشوم چې 22مه کلیزه یې د سپټمبر له 30 مې څخه وروسته وي، د پاتې تعلیمي کال لپاره پر شرایطو برابر پاتې کېږي (د ویرجینیا د قانون § 22.1- 213؛ 34 CFR 300.101(a)؛ او 34 CFR 300.102(a)(3)(ii)) |
| *Age of majority*<br>د لوی والي سن | هغه عمر چې پکې چلندي تضمینونه او نور حقونه چې د معلول زده کوونکي والدینو ته ورکړل شوي وي، زده کوونکي ته لېږدول کېږي. په ویرجینیا کې د لوی والي عمر 18 کاله دی (د ویرجنیا د قانون § 1-204؛ 34 CFR 300.520). |
| *Agree or Agreement*<br>هوکړه یا هوکړه لیک | د "رضایت" تعریف وګورئ. |

| تعریف | اصطلاح |
| --- | --- |
| د ایالت د ارزوني پروګرام یا بل داسي پروګرام چې ښوونځی یي د مهم معلولیت لرونکو ماشومانو لپاره د بدیلو معیارونو پر وړاندې د هغو زده کوونکو د فعالیت د کچې د اندازه کولو لپاره کاروي چې نشي کولای د ایالت په کچه د زده کړې د معیارونو په ازمویلو کې برخه واخلي، ان له (34 CFR 300.320(a)(2)(ii) او (34 CFR 300.704(b)(4)(x) سمونونو سره. | *Alternate Assessment*<br>بدیله ارزونه |
| د امریکا د ښوونځیو د مدیرانو د ټولني، 1992 له مخي، *نادرجه بندي شوې لومړنۍ: د ماشومانو لپاره ښوونځي مناسبوي*. ارلینګټون، ویرجینیا: *حکایتي سوابق* "یو لیکلی سند دی چې د ماشوم د ټولنیز، عاطفي، فزیکي، ښکلا پیژندني او پیژندګلوۍ د ودې پر بنسټ ساتل کیږي." ښوونکی نظارت کوي او وروسته د ماشوم عملونه ثبتوي او د ورځې په جریان کې د فعالیتونو د ترسره کولو پر مهال کار کوي. ثبتول غیر رسمي دي او معمولاً د یادښتونو او یوه چیک لیسټ پر بنسټ وي چې د نظرونو د لیکلو لپاره ځایونه هم لري. دا ټینګار کوي چې "یو ماشوم څه کولای شی او لاسته راوړني یې څه دي، د هغه څه پر وړاندې چې هغه یې نشي کولای". دا د والدینو - ښوونکي د کنفرانسونو پر مهال د زده کوونکي د پرمختګ او لاسته راوړنو په اړه د راپور ورکولو لپاره ګټور دی. | *Anecdotal Record*<br>حکایتي سوابق |
| یو "محرک" یا یوه چاپیریالي پېښه چې پر یوه چلند مقدمه وي. | *Antecedent*<br>پخوانی |
| تعلیمي ارزونه هغه پروسه ده چې معمولاً د اندازه کولو وړ اصطلاحات، پوهې، مهارتونو، لیوالتیاوو او باورونو کې ثبتیږي.<br>د ارزوني اصطلاح په ټوله کې جاري فعالیتونو ته اشاره کوي چې ښایي یو ښوونکی یې په سمه توګه د یوه زده کوونکي د مهارتونو او ودې د روښانه کولو لپاره وکاروي. سره له دې چې د ارزوني مفهوم له لاندې مقولو څخه پیچلی دی، ارزونه ډېری وخت د اسانی په موخه د لاندې تویېرونو له مخې وېشل کیږي:<br>1. تکویني او تجمعي؛<br>2. عیني او ذهني؛<br>3. ارجاعي (د بېلګې په توګه معیاري ارجاع، نورمي ارجاع)؛ او<br>4. غیر رسمي او رسمي. | *Assessment*<br>ارزونه |
| هر هغه توکی، د تجهیزاتو برخه یا د محصول سیستم که هغه په سوداګریزه توګه ترلاسه شوی وي، تعیین شوی وي یا یې سپارښتنه شوې وي، چې د معلول ماشوم د کار کړني د وړتیاوو د لوړولو، ساتلو او غوره کولو لپاره کارول کیږي. په دې اصطلاح کې هغه طبي وسیله نه شاملیږي چې د جراحي عمل په وسیله کرل کیږي او یا له دغې آلې سره بدلیږي (34 CFR 300.5). | *Assistive Technology Device*<br>د ټکنالوژۍ مرستندویه آله |

| اصطلاح | تعریف |
|---|---|
| *Assistive Technology Service*<br>د ټکنالوژۍ مرستندوی خدمت | هغه خدمت چې له معلول ماشوم سره د ټکنالوژۍ د مرستندویې آلې په انتخابولو، ترلاسه کولو او یا کارولو کې مستقیمه مرسته کوي. په اصطلاح کې لاندې موارد راځي: (34 CFR 300.6)<br>1. د معلولیت لرونکي ماشوم د اړتیاوو ارزونه لکه د ماشوم په معمولي چاپېریال د ماشوم د کړنو ارزونه؛<br>2. د معلولیت لرونکو ماشومانو د ټکنالوژي د مرستندویه توکو پیرل، قرارداد کول او یا په بله بڼه چمتول کول؛<br>3. د ټکنالوژۍ د مرستندویه وسایلو انتخابول، ډیزاینول، نصبول، سپاربښت ورکول، رسیدګي کول، پلي کول، ساتل، بیا ترمیمولی یا بدلول؛<br>4. له مرستندویه ټکنالوژیکي وسایلو سره د نورو درملنو، لاسوهنو یا خدمتونو همغږي کول او کارول، لکه له شته اوسنیو تعلیمي او د پیاوړتیا د پلانونو او پروګرامونو سره اړوند؛<br>5. د معلول ماشوم روزنه او یا له هغوی سره تخنیکي مرسته، که چېرته مناسب وي د یاد ماشوم له کورنۍ سره مرسته؛ او<br>6. د متخصصین (د هغو کسانو په ګډون چې تعلیمي او یا د پیاوړي کولو خدمتونه وړاندې کوي)، ګومارونکو او نورو هغو کسانو روزنه او له هغوی سره تخنیکي مرسته چې د ګومارنې خدمتونه وړاندې کوي او یا په کومه بله بڼه د ماشوم د ژوند په فعالیتونو کې ښکېل وي. |
| *At no cost*<br>په وړیا ډول | ټول په ځانګړي ډول ډیزاین شوې زده کړې په وړیا ډول چمتو کېږي، مګر له هغو جانبي لګښتونو څخه مخنیوی نه کوي چې پر غیر معلولو زده کوونکو او یا د هغوی پر والدینو د زده کړو د عمومي پروګرام د یوې برخې په توګه عملي کېږي ((34 CFR 300.39(b)(1)). |
| *Audiology*<br>آډیولوژي | خدمتونه د مستعدو آډیولوژېستانو له لوري وړاندې کېږي چې د آډیولوژۍ او ګړنۍ ژبې د پتالوژۍ د پلاوي له لوري جواز ورکړل شوی دی او لاندې موارد پکې شاملېږي: (پر آډیولوژي او د ګړنۍ ژبې د پتالوژي اداره کوونکي اصول، (18VAC30-20; 34 CFR 300.34(c)(1)<br>1. د هغو زده کوونکو پېژندنه چې غوږونه یې څه نه اوري؛<br>2. طبي یا نورو متخصصینو ته د راجع کولو په ګډون د نه اورېدنې د کچې، څرنګوالي او درجې تعیینول، تر څو اورېدنه پیاوړې کړي؛<br>3. د پیاوړي کولو فعالیتونو چمتو کول، لکه د ژبې پاوړتیا، د اورېدنې روزنه، د متن لوستل (په شونډو لوستل)، د اورېدنې ارزونه او ګړنۍ محاوره؛<br>4. د اورېدنې له لاسه ورکولو څخه د مخنیوي لپاره د پروګرامونو جوړول او اداره کول؛<br>5. له ماشومانو، والدینو او ښوونکو سره د اورېدنې د حس له لاسه ورکولو په اړه مشوره او هغوی ته لارښوونې کول؛ او<br>6. د ډله ییزې او فردي پیاوړتیا، د مناسبې مرستې د ټاکلو او تنظیمولو او د پیاوړي کولو د اغېزمنتیا د اغېز د ارزولو لپاره د ماشوم د اړتیاوو تعیینول. |
| *Autism*<br>اوتیزم | یو وده ییز معلولیت دی چې پر شفاهي او غیر شفاهي اړیکو او ټولنیز تعامل خورا سخته اغېزه کوي چې عموماً له درې کلنۍ څخه په کم عمر کې لیدل کېږي او د زده کوونکي پر زده کړه ییز فعالیت منفي اغېز لري. نورې ځانګړنې چې تر ډېره په اوتېزم پورې تړاو لري له تکراري فعالیتونو او کلیشه یي حرکتونو سره تعامل دی، د چاپېریالي بدلونونو یا ورځنیو کارونو کې د بدلون پر وړاندې مقاومت او حسي تجربو ته غیر معمول ځواب دی.<br>که چېرته له وړاندې د ماشوم زده کړه ییز فعالیت په سخته توګه د عاطفي اختلال له امله تر اغېز لاندې راغلی وي، نو اوتېزم د پلي کېدو وړ نه دی. هغه ماشوم چې له درې کلنۍ څخه وروسته د اوتېزم نښې نښانې څرګندوي، ښایي د اوتېزم د لرونکي په توګه وپېژندل شي، که چېرته په دې تعریف کې معیارونه قناعت ښونکي وي (34 CFR 300.8(c)(1)). |
| *Avoidance*<br>مخنیوی | هغه چلن دی چې د یوې پېښې/ محرکونو له را منځته کېدو څخه مخنیوی کوي. |
| *Baseline Data*<br>بنسټیز معلومات | له یوې لاسوهنې څخه مخکې د چلن کره والی. دا له لاسوهنې څخه مخکې او وروسته د معلوماتو تر منځ پرتله چمتو کوي. |
| *Behavior*<br>چلند | د یوه شخص د لیدو او اندازه کېدو وړ عمل دی. |

| تعریف | اصطلاح |
|---|---|
| هغه پلان دی چې د اندېښنې د چلندونو د هوارولو لپاره مثبتې چلندې لاسوهنې، ستراتیژۍ ګانې او ملاتړ کاروي. | *Behavior Intervention Plan (BIP)*<br>د چلند د لاسوهنې پلان (BIP) |
| له ټولنیز پلوه یو مهم چلند یا د خوندیتوب ستونزه ده چې ډله په هغې کې بدلون اړین بولي. | *Behavior of Concern (BOC)*<br>د اندېښنې چلن (BOC) |
| د کال 12 میاشتې، له دوشنبې څخه تر جمعې پورې، له فدرالي او ایالتي رخصتیو پرته (مګر دا چې رخصتۍ په مهمه توګه په کاري ورځو کې شاملې وي، لکه په ,((2) 8VAC20- 81-150 B 4 a (34 CFR 300.11) کې. | *Business Day*<br>کاري ورځ |
| پرلپسې ورځې، د شنبې او یکشنبې د ورځو په ګډون. هر کله چې د دې ځېرکي په وسیله یوه تنظیم شوې زماني دوره په شنبې، یکشنبې، یا فدرال او یا ایالتي رخصتیو کې پای ته ورسېږي، نو د دغه ډول عمل د ترسره کولو وخت بلې ورځې ته غځول کېږي، د شنبې، یکشنبې، یا فدرال او یا ایالتي رخصتیو (34 CFR 300.11) پر ورځ به نه وي. | *Calendar Day*<br>تقویمي ورځ |
| هغه منظم تعلیمي فعالیتونه چې د کورسونو یوه لړۍ وړاندې کوي چې: .(20 USC § 2301 et seq )<br>1. اشخاصو ته کره او تنګوونکي اکاډمیکه او تخنیکي پوهه او مهارتونه ورکوي چې هغوی ورته د راتلونکي زده کړې او دندو ته (له هغو دندو څخه پرته چې د ماسټرۍ یا دکتورا سندونو ته اړتیا لري) د چمتووالي په برخه کې په اوسني یا مخ پر ودې کاري سکټور کې اړتیا لري؛<br>2. بنایي د هغو اړینو مهارتونو او کورسونو چمتو کول هم پکې شامل شي چې د کورسونو په لړۍ کې د نوم لیکنې لپاره اړین وي تر څو د دې فرعي برخې اړتیاوې بشپړې کړي؛ یا<br>3. له منځنۍ کچې څخه په لوړه سطحه یو کلنه تصدیق پاڼه، یو پرمختللی سند یا د صنعت معتبر سند ورکوي او د وړتیا پر بنسټ زده کړه پکې شاملېږي چې<br>له اکاډمیکې پوهې، په لوړه کچه د استدلال د ستونزو د حل کولو په مهارتونو، کاري لېوالتیاوو، د دندې پر مخ وړلو لپاره اړینو مهارتونو، تخنیکي مهارتون او د دندې اړوند مشخصو مهارتونو سره مرسته کوي. | *Career and Technical Education*<br>کاري او تخنیکي زده کړه |
| هغه مربي چې د زده کوونکي په اړه پوهاوی لري، د ځانګړې زده کړې یا 504 پروسو د مدیریت کولو مسوول دی، ډاډ حاصلوي چې سمونونه د IEP له ځانګړتیاوو سره سم چمتو شوي دي، او هغو زده کوونکو ته ځانګړې لاښوونې کوي چې د IDEA له مخې پر شرایطو برابر دي او یا د 504 پر اساس وړتیا لري. | *Case Manager*<br>د قضیې مدیر |
| هغه شمېر زده کوونکي چې د ځانګړو زده کړو د کارکوونکو له لوري ور ته خدمت وړاندې شوی وي. | *Caseload*<br>د قضیو زیاتوالی |
| د اړتیا په صورت کې، د ځانګړو زده کړو لپاره پر شرایطو د برابروالي ناسته چې د SED کارکوونکي او د ښوونځي استازي به پکې ګډون لري. د مرکزي دفتر پر شرایطو برابروالی بنایي د یو لړ دلایلو له مخې ترسره شي. دا په عامه توګه د ښوونځي د مدیر یا د SED د غوښتنو په پایله کې پیلېږي. | *Central Office Eligibility*<br>د مرکزي دفتر پر شرایطو برابروالی |
| د Prince William د ښارګوټي یو سیمه ییز پروسېجر چې والدینو او د ښوونځي کارکوونکو ته د اختلافاتو د حل کولو یو غیر رسمي مېتود چمتو کوي، مخکې له دې چې د ایالت د منځګړتوب پروسه یا بیا کتنه پیل شي. | *Central Office Review*<br>د مرکزي دفتر بیا کتنه |
| د هغه ډلې له لوري د ماشوم د معلولیت په کټګوریزه تشخیصونه کې بدلون چې پر شرایطو د ماشوم برابروالی تعیینوي. | *Change in Identification*<br>په پېژندنه کې بدلون |

| اصطلاح | تعریف |
|---|---|
| *Change in Placement or Change of Placement*<br>په ځایګاه کې بدلون یا د ځایګاه بدلول | کله چې سیمه ییزه ښوونیزه اداره ماشوم په داسې چاپېریال کې ځای پر ځای کوي چې دا چاپېریال له هغه ښوونیز چاپېریال څخه متفاوت وي چې مخکې تر دې د ماشوم لپاره تعیین شوی و او لاندې موارد پکې شاملېږي: (34 CFR 300.102(a)(3)(iii), 34 CFR 300.532(b)(2)(ii) او 34CFR 300.536)<br>1. له عمومي زده کړو څخه ځانګړو زده کړو او اړوندو خدمتونو ته د ماشوم لېږدول؛<br>2. د یوه معلول ماشوم بهر کول او یا د اوږدې مودې لپاره حذف کول؛<br>3. په ځایګاه کې بدلون چې د معلولیت په پېژندنه کې د بدلون له امله را منځته شوی وي؛<br>4. له عامه ښوونځي څخه د ورځې خصوصي، د استوګنې یا د ایالت له لوري پلي کېدونکي پروګرام ته بدلون موندل، یا د ایالت له لوري پلي کېدونکی پروګرام یوه خصوصي ښوونځي؛ یا په جلا مرکز کې ځایګاه ته د تعلیمي موخې لپاره بدلېدل؛<br>5. د ټولو ځانګړو زده کړو او اړوندو خدمتونو لغوه کېدل؛ یا<br>6. د عالي لېسې له معیاري او یا پرمختللي سند سره فارغېدل.<br>"په ځایګاه کې بدلون" د معلول ماشوم په ښوونیز چاپېریال کې د هغو بدلونونو په معنا هم دی چې د ماشوم د پخواني چاپېریال د تعلیمي پروګرام عناصر نه منعکس کوي.<br><br><u>د انظباطي موخو لپاره یې معنا په لاندې ډول ده:</u> (34CFR 300.536)<br>1. د زده کوونکي د اوسني تعلیمي ځایګاه څخه د زده کوونکي لرې کول له 10 پرلپسې تعلیمي ورځو څخه د ډېرې مودې لپاره دي؛ یا<br>2. زده کوونکو له یو لړ حذف کولو سره مخ کېږي چې یوه بېلګه جوړوي ځکه هغوی په یوه تعلیمي کال کې له 10 تعلیمي ورځو څخه ډېرې جمع کوي لامل یې لاندې فکتورونه وي:<br>1. د هرې حذفونې وخت؛<br>2. د ماشوم چلن په بشپړه توګه د هغه چلن په څېر وي چې تر دې د مخه پېښو کې ښودل شوی و او د حذفونو د لړۍ لامل شو؛<br>3. د هغه وخت بشپړه اندازه چې یو ماشوم پکې حذف شوی دی؛ یا<br>4. یو بل ته د حذفونو نږدېوالی. |
| *Chapter*<br>څپرکی | هغو اصولو ته اشاره کوي چې په ویرجینیا کې د معلولو ماشومانو لپاره د ځانګړو زده کړو پروګرامونه اداره کوي، د 2009 کال د جولای له 7 نېټې څخه د پلي کېدو وړ دي. |
| *Charter Schools*<br>چارټر ښوونځي | هغه ښوونځي چې د چارټر لپاره تعیین شوي معیارونه بشپړ کړي چې د ویرجینیا په قانون کې ځای پر ځای شوي دي (د ویرجینیا د قانون 34CFR 300.7 له §§ 22.1-212.5 څخه تر 22.1-212.16 برخې پورې). |
| *Child*<br>ماشوم | هغه کس چې د روان کال د سپټمبر په 30 مه نېټه خپلې 22 کلیزې ته نه وي رسېدلی. |
| *Child with a Disability*<br>معلولیت لرونکی ماشوم | هغه ماشوم چې د دې څپرکي له احکامو سره سم ذهني معلولیت، د اورېدنې په برخه کې اختلال (د ناشنوایي په ګډون)، د خبرو کولو یا ژبې اختلال، لیدنې یا د سترګو اختلال (د ړوندوالي په ګډون)، جدي عاطفي معلولیت (چې په دې برخه کې "عاطفي معلولیت" بلل شوی دی)، ارتوپیدیک اختلال، اوتېزم، د مغز تروماتیکه جراحي، بل روغتیایي اختلال، د زده کړې ځانګړی معلولیت، ناشنوایي - نابینایي، ولري یا څو ګونی معلولیت ولري چې د دې دلایلو له مخې ځانګړې زده کړې او اړوندو خدمتونو ته اړتیا ولري. په دې کې همدارنګه د ودې ځنډه هم شاملېږي که چېرته ځایي تعلیمي اداره دا کټګوري له 8VAC20-81-80 M 3 سره سم د معلولیت په توګه تنظیموي. که چېرته د یوې مناسبې ارزونې له مخې تعیین شي چې ماشوم یو پېژندل شوی معلولیت لري، مګر یوازې یوه اړوند خدمت ته اړتیا لري او ځانګړې زده کړې ته اړتیا نلري، نو ماشوم د دې برخې له مخې معلولیت لرونکی ماشوم نه دی. که چېرته د ویرجینیا تر معیارونو لاندې پرته له اړوندو خدمتونو څخه د ماشوم د اړتیا وړ خدمت په توګه ځانګړې زده کړه په پام کې نیول شوې وي، نو ماشوم به د معلولیت لرونکي ماشوم په توګه په پام کې ونیول شي (د ویرجینیا د کوډ § 22.1-213 برخه؛ (1)(a)34 CFR 300.8 او(ii) او (i)(2)(a)34 CFR 300.8 |
| *Co-Teaching*<br>ګډ تدریس | د خدمت د چمتو کولو یو غوراوی له دوه یا ډېرو متخصصینو سره چې د ښوونځي د ځینو یا ټولو ورځو لپاره د زده کوونکو د یوې ډلې لپاره مسوولیت شریکوي تر څو خپل تخصص سره متمرکز کړي چې د زده کوونکي اړتیاوې بشپړې کړي. |
| *Cognitive Impairment*<br>د پېژندنې اختلال | ذهني معلولیت وګورئ، هغه اصول چې په ویرجینیا کې د معلولو ماشومانو لپاره د ځانګړو زده کړو پر پروګرامونو حاکم دي، د 2010 کال جنوري. |
| *Collaboration*<br>همکاري | د متخصصینو تر منځ تعامل ځکه چې هغوی د یوې ګډې موخې لپاره کار کوي. ښوونکي اړتیا نلري چې د همکارۍ په موخه په ګډ تدریس کې ښکېل شي. |

| اصطلاح | تعریف |
| --- | --- |
| *Complaint*<br>شکایت | یوه غوښتنه چې د ویرجینیا د پوهنې ریاست د یوې ځایي تعلیمي ادارې له لوري د والدینو یا د ماشوم د حق د تر پښو لاندې کولو په اړه خبرنه وکړي چې پر شرایطو برابر وي یا اټکل وي چې د ځانګړو زده کړو یا اړوندو خدمتونو لپاره به د فدرال او ایالتي قوانینو د هغو اصولو له مخې پر شرایطو برابر وي چې د دغه ډول ماشوم د ځانګړې زده کړو پر حقونو حاکم وي. شکایت د یو ماشوم د پېژندنې، ارزونې او یا تعلیمي ځایګاه یا د وړیا مناسبې عامه زده کړې د چمتو کولو په اړه د موضوعاتو (34CFR 300.151) په اړه د پروسېجرو او پروسو په باب د یو شخص بیانیه ده. |
| *Comprehensive Evaluation*<br>هر اړخیزه ارزونه | پر شرایطو د برابروالي په موخه، د ارزونې د اصطلاح معنا د زده کوونکي د اکاډمیک او یا عملي فعالیت په اړه د ټولو اړوندو ساحو ارزول دي، ان په هغو برخو کې چې د مشکوک معولیت پورې اړه هم ونلري. |
| *Comprehensive Services Act (CSA)*<br>د هر اړخیزو خدمتونو قانون (CSA) | یوه همکاره اداره را منځته کوي او له خطر سره مخ ځوانانو او د هغوی د کورنیو لپاره د خدمتونو د سیستم مالي ملاتړ کوي (52 څپرکی (§ 2.2-5200 برخه او ورپسې.) د ویرجینیا د قانون 2.2 عنوان). |
| *Consensus*<br>ټولیز توافق | هغه نظر چې په عمومي هوکړې کې د ټولو یا اکثریت له لوري وړاندې کېږي. |
| *Consent*<br>رضایت | (34 CFR 300.9)<br>1. والدین یا پر شرایطو برابر زده کوونکی په هغه فعالیت پورې ټولو اړوندو معلوماتو څخه په بشپړه خبر وي چې د هغه لپاره د والدینو یا زده کوونکي په اصلي ژبه او یا د اړیکو په نورو بڼو د رضایت اخیستلو هڅه کېږي؛<br>2. والدین یا پر شرایطو برابر زده کوونکی د هغه فعالیت په ترسره کولو پوهېږي او په لیکلې بڼه ورسره هوکړه کوي چې د هغې لپاره د رضایت اخیستلو هڅه کېږي او رضایت دغه فعالیت روښانه کوي او هغه سوابق (که چېرته وي) ذکر کوي چې هغه به خپرېږي او هغه لوری به هم یادېږي چې سوابق ورکول کېږي؛ او<br>3. والدین یا پر شرایطو برابر زده کوونکی پوهېږي چې د هغوی له لوري د رضایت ورکول رضاکارانه دي او هغوی هر کله کولای شي چې بېرته یې واخلي.<br>که چېرته والدین خپل رضایت بېرته واخلي، دا ابطال زمونږ لپاره نه سبق کېږي (د بېلګې په توګه دا هغه عمل نه نفې کوي چې د رضایت له ورکولو څخه وروسته یا د او د رضایت له لغوه کولو څخه مخکې واقع شوی وي. د رضایت لغوه کول د هغه فعالیت له بشپړېدو څخه وروسته مرتبط نه دی، چې د هغه لپاره رضایت اخیستل شوی و.).<br>د "رضایت" معنا د "موافق" یا "هوکړه لیک" په څېر نه ده. "موافق" یا "هوکړه لیک" د یوې مشخصې موضوع په اړه یا چې په دې څپرکي کې ورته اړتیا وي، د والدینو او د ځایي تعلیمي ادارې تر منځ تفاهم ته ویل کېږي. داسې اړتیا نشته چې یو هوکړه لیک باید په لیکلې بڼه وي، مګر دا چې په دې څپرکي کې روښانه شوې وي. ځایي تعلیمي اداره او والدین باید خپل هوکړه لیک مستند کړي. |
| *Consequence*<br>عواقب | چاپېریالي پېښې/ ارائه شوي محرکونه چې له چلند وروسته را منځته کېږي. |
| *Consult and Monitor*<br>مشوره او نظارت | د خدمت د وړاندې کولو غوراوی کارول کېږي تر څو د مستقیمې لارښوونې پر ځای د IEP خدمتونه شرحه کړي. مشوره او نظارت د IEP د خدمت د وړاندې کولو په ټولو غوراویو کې ذاتي دي. مشوره/ نظارت په دې معنا ده چې (الف) د ځانګړې زده کړې ښوونکی له نورو متخصصینو سره په همکارۍ د IEP په موخه خدمت وړاندې کوي تر څو تعلیمي تصمیمونه ونیسي؛ او (ب) د بېلا بېلو مېتودونو له لارې معلومات را ټولوي تر څو د زده کوونکي پرمختګ مستند کړي چې په دې توګه تعلیمي تصمیمونه ونیسي. |
| *Continuum of Placement Options*<br>د ځایګاه د ټاکلو غوراوي | له حد اقل څخه تر ټولو محدودو پورې، هغه خدمتونه پکې شاملېږي چې په عمومي ټولګیو، د ځانګړې زده کړې په ټولګیو، ځانګړو ښوونځیو، کورنۍ زده کړې او د روغتونونو او ادارو په زده کړه (CFR 300.115) کې یې وړاندې کړي وي. |

| اصطلاح | تعریف |
|---|---|
| *Controlled Substances*<br>کنټرول شوي مواد | هغه نشه یي توکي او نور مواد چې د ایالتي او فدرالي مقرراتو تر I, II, III, IV یا V سکېجولونو لاندې په 202(c) برخه کې پېژندل شوي وي. |
| *Core Academic Subjects*<br>اصلي اکاډمیک مضامین | د دې معنا انګلیسي، د لوستنې او یا ژبې هنرونه، ریاضیات، ساینس، بهرنۍ ژبې، مدنیات او حکومت، اقتصاد، هنرونه، تاریخ او جغرافیه ده (34CFR 300.10). |
| *Correctional Facility*<br>تادیبي مرکز | د ویرجینیا د اصلاحات ریاست یا د ویرجینیا د تنکیو ځوانانو د عدلیې ریاست، هر منطقوي یا سیمه ییز توقیف ځای، یا هر منطقوي یا سیمه ییزه زندان (د ویرجینیا د قانون §§ 16.1-228 او 53.1-1 برخه). |
| *Counseling Services*<br>د سلا مشورې خدمتونه | هغه خدمتونه چې د مستعدو ښوونکو، ټولنیزو کارکوونکو، اروا پوهانو، لارښود سلاکارانو، یا نورو مستعدو کارکوونکو له لوري وړاندې کېږي (34CFR 300.34(c)(2))؛ د ښوونځي د کارکوونکو لپاره د جواز د صدور مقررات (8VAC20-22)). |
| *Dangerous Weapon*<br>خطرناکې وسلې | یوه وسله، آله، وسیله، مواد، ماده، ځانداره یا بې ځانه چې د وژنې او یا ځاني زیان لپاره کارول کېږي یا په اسانۍ سره د دې کار لامل کېدای شي، په دې توپیر چې په دغو عبارتونو کې د جېب چاقو یا داسې تېغ چې اوږدوالی یې له درې اینچونو څخه کم وي، نه شاملېږي (د ویرجینیا د قانون 18 USC § 930(g)(2)؛ § 18.2-308.1 برخه). |
| *Day*<br>ورځ | تقویمي ورځ، مګر دا چې د کاري یا تعلیمي ورځې په توګه ښودل شوې وي (34 CFR 300.11). |
| *Deaf-Blindness*<br>ناشنوایي - نابینایي | په یوه وخت کې د اورېدنې او لیدنې اختلالات چې د دواړو ترکیب د دغه ډول شدیدو اړیکو لامل کېږي او د ناشنوا یا نابینا زده کوونکو لپاره په ځانګړو ښوونیزو پروګرامونو کې را یو ځای کېدای نشي (34CFR 300.8(c)(2)). |
| *Deafness*<br>ناشنوایي | د اورېدنې اختلال چې دېر شدید وي چې ماشوم د اورېدنې له لارې د ژبنیو معلوماتو په پروسس کولو کې له اختلال سره مخ کېږي، له پیاوړي کولو سره یا له دې پرته، چې د ماشوم پر تعلیمي فعالیت منفي اغېز پرېباسي (34CFR 300.8(c) (3)). |
| *Destruction of Information*<br>د معلوماتو له منځه وړل | له معلوماتو څخه د شخص د هویت څرګندوونکې برخې په فزیکي ډول له منځه وړل یا لرې کول په داسې ډول چې له دې معلوماتو څخه د شخص هویت نه څرګندېږي (34CFR 300.611(a)). |
| *Developmental Delay*<br>په وده کې ځنډ | داسې معلولیت چې پر هغه ماشوم اغېز کوي چې د سپټمبر پر 30 مه یې عمر دوه کلنۍ ته رسېږي تر شپږ کلنۍ پورې، لاندې موارد پکې شاملېږي: (34CFR 300.8(b); 34 CFR 300.306(b))<br>1. (i) هغه کسان چې د مناسبو تشخیصیه وسایلو او پروسېجرونو په کارولو سره په لاندې یوه یا څو برخو کې له وده ییز ځنډ تجربه کوي: فزیکي وده، د پېژندنې وده، د اړیکو وده، ټولنیزه یا عاطفي وده، د سمون وده یا (ii) هغه کسان چې د داسې فزیکي یا رواني ثابت وضعیت لرونکي وي چې په پایله کې یې د وده ییز ځنډ د را منځته کېدو لوړ احتمال موجود وي؛<br>2. ځنډ (ځنډونه) په بنسټیزه توګه د کلتوري فکتورونو، چاپېریالي یا اقتصادي زیانونو یا د انګلیسي ژبې د محدود مهارت په پایله کې نه رامنځته کېږي؛ او<br>د ځنډ یوه یا ډېرې مستندې ځانګړنې د ماشوم پر زده کړه ییز فعالیت اغېز کوي او دا اړتیا را منځته کوي چې زده کوونکی په ځانګړي ډول ډیزاین شوې زده کړې ترلاسه کړي تر څو له خپل سن سره مناسبو عمومي زده کړو ته لاسرسی ومومي او وده پکې وکړي. |
| *Differential Reinforcement of an Incompatible Behavior (DRI)*<br>د یو ناسازګار چلن توپیري بیا پیاوړي کول (DRI) | د بیا پیاوړي کولو یو مهالوېش چې په هغه کې یو مطلوب چلند له پام وړ چلند سره سمون نلري، پیاوړی کېږي. د بېلګې په توګه: کله چې له سیټ څخه بهر چلن د کمولو لپاره غوره کېږي، نو بیا د سیټ چلن پیاوړی کېږي ځکه چې په یوه وخت کې له سیټ څخه بهر چلن سره یو شان کېدای نشي. |
| *Differential Reinforcement of Other Behavior (DRO)*<br>د بل چلن توپیري بیا پیاوړي کول (DRO) | د بیا پیاوړي کولو یو مهالوېش چې کله په یوه مشخصه زماني دوره کې اندېښمنوونکی چلن نه پېښېږي، نو د هغه لپاره د بیا پیاوړي کولو عمل ترسره کېږي. |

| اصطلاح | تعریف |
|---|---|
| *Differentiation*<br>توپير کول | يوه تنظيم شوې انعطاف منونکي لار چې په فعالانه توګه د تدريس او زده کړې مېتودونه منظموي تر څو د هر ماشوم د زده کړې اړتياوو او لومړيتوبونو ته سمون ورکړي او په دې توګه هغه په حداکثر ډول وده وکړي. دا ډاډمنوي چې يو زده کوونکی څخه زده کوي، څنګه يې زده کوي او څنګه يې ښيي چې هغه څه چې يې زده کړي دي د ياد زده کوونکي د چمتووالي له کچې، لېوالتياوو او د زده کړې د پام وړ حالت سره سمون لري. |
| *Direct Functional Behavior Assessment*<br>د مستقيم عملي چلند ارزونه | د يوه چلند د ارزونې مستندول چې د هغو انډېښمنوونکو چلندونو په اړه معلومات را ټولوي چې را منځته کيږي. |
| *Direct Instruction*<br>مستقيمه زده کړه | د مهارتونو د يوې ټولګې صريح تدريس |
| *Direct Services*<br>مستقيم خدمتونه | هغه خدمتونه چې معلوليت لرونکي ماشوم په مستقيمه توګه د ويرجينيا د پوهنې د رياست، قرارداد، يا نورو ترتيباتو له لوري وړاندې کيږي (34CFR 300.175). |
| *Disability Category*<br>د معلوليت کټګوري | هغه کټګوري ګانې چې په ويرجينيا کې تشخيص شوې دي، هغه په لاندې ډول دي:  ذهني معلوليت؛ ناشنوايي، د اورېدنې اختلال؛ د خبرو کولو يا ژبې اختلال؛ د ليدنې اختلال؛ عاطفي معلوليت؛ ارتوپيديک اختلال؛ اوتېزم؛ د مغز تروماتيک ټپ؛ نور روغتيايي اختلالات؛ د زده کړې ځانګړی معلوليت؛ ناشنوايي - نابينايي؛ څو ګونی معلوليت؛ وده ييز ځنډ؛ يا معلوليت لرونکی ماشوم. |
| *Discrete Trial*<br>جلا ازمېښت | د زده کړې د فرصتونو يوه لړۍ چې مشخص پيل او پای لري. |
| *Due Process Hearing*<br>د اورېدنې قانوني پروسه | يو اداري پروسېجر چې د اورېدنې د يوه بې پرې ځانګړي افيسر له لوري په لار اچول کيږي تر څو د پېژندنې، ارزونې، تعليمي ځايګاه او خدمتونو او د مناسب او وړيا عامه تعليم د چمتو کولو په اړه د والدينو او ځايي تعليمي ادارې تر منځ شته اختلافات هوار کړي. د اورېدنې په پروسه کې د ځانګړې زده کړې د اورېدنې د هغه بې پرې افيسر ليدنې شامليږی چې د اورېدنې پروسه پر لار اچوي، پر شواهدو بيا کتنه کوي، او تشخيصوي چې د معلوليت لرونکي ماشوم لپاره کوم څه مناسب دي (34CFR 300.507). |
| *Duration*<br>وخت | يو چلند د څومره وخت لپاره پاتې کيږي. |
| *Dyslexia*<br>نارسا لوستل | دغه اصطلاح د زده کړه ځانګړي معلوليت ته اشاره کوي چې نيوروبيولوژيکي منشا لري. دا د کره او رواني کليمې په تشخيص کې د ستونزو او کمزورې املا او د رمز پرانيستنې د وړتيا په وسيله مشخص کيږي. دا ستونزې عموماً د ژبې په فونولوژيکي برخه کې د کمښت له امله رامينځته کيږي چې ډيری وختونه د نورو ادراکي وړتياوو او د ټولګي د اغېزناکو لارښوونو د چمتو کولو په اړه غير متوقع وي. په دويمه کچه عواقبو کې ښايي د مطلب د درک کولو او د لوستنې د تجربې کموالی راشي چې کولای شي د لغتونو د زده کړې او بګرونډ د زده کړې مخنيوی وکړي. |
| *Early Identification and Assessment of Disabilities*<br>د معلوليتونو لومړنی پېژندنه او ارزونه | د ماشوم په ژوند کې هر څومره ژر چې کيږي د معلوليت د پېژندنې لپاره د يو رسمي پلان پلي کول ((34CFR 300.34(c)(3)). |
| *Education Record*<br>تعليمي سوابق | هغه سوابق چې په مستقيمه توګه په يوه زده کوونکي پورې اړوند دي او د يوې تعليمي اېجنسۍ يا ادارې يا د هغوی د استازيو له لوري ساتل کيږي. دغه اصطلاح همدارنګه د "علمي سوابقو" په څېر معنا هم افاده کوي. پر ليکلو سوابقو سربېره، په دې کې همدارنګه په الکترنيکي بڼه د ښوونځي د پرسونل او والدينو تر منځ د ماشوم د تعليمي پروګرام په باب تبادله شوې مکالمې هم شامليږي (د بېلګې په توګه د ليدنو د وختونو ټاکل او خبرتياوې). په دې اصطلاح کې همدارنګه هغه سوابق هم راځي چې د کورنۍ د زده کړې د حقونو او محرميت د قانون د پلي کېدو وړ اصولو کې د "تعليمي سوابق" تر عنوان لاندې راغلي دي ( 289-22.1 § ;20 USC § 1232g(a)(3) د ويرجينيا قانون؛ (34 CFR 300.611(b) . |
| *Educational Performance*<br>تعليمي فعاليت | د يوه زده کوونکي اکاډميک او غير اکاډميک چلندونه چې د تعليمي ورځې په اوږدو کې ورته اړتيا وي. تعليمي فعاليت کېدای شي د بېلا بېلو اقداماتو له لارې تعيين شي لکه نمرې، د نامعياري شويو او معياري شويو ازموينو پايلې، د ټولګي ملاحظات او د نصاب پر بنسټ ارزونې. |

| اصطلاح | تعریف |
|---|---|
| *Educational Placement*<br>تعلیمي ځایګاه | مجموعي تعلیمي چاپیریال چې په هغه کې زده کوونکی خپل تعلیم تر لاسه کوي، د هغې ځانګړې زده کړې او اړوندو خدمتونو په ګډون چې چمتو شوي دي. هره ځایي تعلیمي اېجنسي باید ډاډ حاصل کړي چې د معلولیت لرونکي ماشوم والدین د هغې ډلې غړي دي چې د خپل ماشوم د تعلیمي ځایګاه په اړه پرېکړې کوي (34CFR 300.327). |
| *Educational Service Agencies and Other Public Institutions or Agencies*<br>د تعلمي خدمتونو اېجنسۍ او نورې عامه ادارې او اېجنسۍ | (34 CFR 300.12)<br>1. سیمه ییزې د څو ګونو خدمتونو وړاندې کوونکې عامه اېجنسۍ چې د ایالتي قانون له مخې اجازه ورکړل شوې ده تر څو ځایي تعلمي اېجنسیو ته وده ورکړي، مدیریت یې کړي او یا خدمتونو او پروګرامونه ورکړي؛<br>2. د یوې اداري اېجنسۍ په توګه پېژندل شوې وي چې د ایالت په لومړنیو او ثانوي ښوونځیو کې ځانګړې زده کړې او اړوند خدمتونه وړاندې کوي؛<br>3. کومه بله عامه اداره یا اېجنسۍ چې پر عامه لومړنیو او ثانوي ښوونځیو اداري کنټرول لري او لارښوونه ورته کوي؛ او<br>4. هغه بنسټونه چې د 1997 کال د جون د له 4 مې نېټې څخه مخکې پلي شوي قانون د § 602(23) برخې د پرمختللې زده کړې له تعریف سره سم عمل کوي. |
| *Eligible Student*<br>پر شرایطو برابر زده کوونکی | کله چې یو معلولیت لرونکی ماشوم د بلوغ سن ته رسیږي او د پروسېجر تضمینونه او نور حقونه چې والدینو ته ورکړل شوي وي، هغه/ هغې ته انتقالیږي. |
| *Emotional Disability*<br>عاطفي معلولیت | دا اصطلاح هغه وضعیت ته کارول کیږي چې په یوه اوږده موده او مشخصه کچه کې لاندې یوه یا څو ځانګړني ځرګندیږي چې په سخته توګه د زده کوونکو په تعلیمي فعالیت اغېزه کوي:<br>1. په زده کړه کې ناتواني چې د فکري، حسي یا روغتیایي فکتورونو په وسیله نشي روښانه کېدای؛<br>2. له همزولو او ښوونکو سره د اشخاصو تر منځ د قناعت وړ اړیکو په جوړولو او ساتلو کې ناکامي؛<br>3. تر عادي شرایطو لاندې د چلندونو یا احساساتو ناسم ډولونه؛<br>4. د ناخوښۍ یا خپګان عمومي پراخ مزاج؛ یا<br>5. د شخصي او یا د ښوونځي په اړه د وېرو او یا فزیکي نښو ځرګندولو ته لېوالتیا.<br>په عاطفي معلولیت کې سکېزوفرنیا شاملیږي. دغه اصطلاح د هغو ماشومانو په اړه صدق نه کوي چې د ټولنیز پلوه ناسازګار وي، مګر دا چې تشخیص شوي وي چې هغوی کوم عاطفي معلولیت ولري لکه ځرنګه چې تعریف شو. |
| *Equal Access*<br>مساوي لاسرسی | یوه معلول پر شرایطو برابر شخص ته په تعلیمي مرستې، امتیازاتو یا خدمتونو کې د ګډون یا له هغوی څخه د ګټې اخیستنې مساوي فرصت ورکول. |
| *Equipment*<br>تجهیزات | ماشینونه، تأسیسات او تجهیزات او هر ډول اړینې محوطې یا ودانۍ چې ماشینونه، تأسیسات، تجهیزات او نور اړین توکي پکې ځای پر ځای شي چې د یوې مشخصې اسانتیا د را منځته کولو لپاره کاریږي لکه د تعلیمي خدمتونو د اسانتیا را منځته کول، چې په دې کې ودانیز وسایل او اړین فرنیچر، چاپي، خپاره شوي او غږیز - تصویري زده کړه ییز مواد، مخابراتي، حسي او نور ټکنالوژیکي مرستندویه وسایل او کتابونه، نشریات، سندونه او نور اړوند مواد شاملیږي. (34CFR 300.14) |
| *Escape*<br>تېښته | داسې یو چلند چې په یوه پېښه/ محرک پای ته رسیږي. |
| *Evaluation*<br>ارزونه | پروسېجرونه د دې څېرکې مطابق کارول کیږي تر څو تعیین کړي چې ماشوم ایا ماشوم معلولیت لري او څومره او څه ډول د ځانګړو زده کړو خدمتونو ته اړتیا لري. (34CFR 300.15) |

| تعریف | اصطلاح |
|---|---|
| هغه لګښتونه چې په يوه ځايي تعليمي اداره کې د تېر تعليمي کال د لومړني يا منځني ښوونځي د زده کوونکي د لګښتونو له اوسط څخه اضافه وي، چې ښايي مناسب وي او له کسر وروسته محاسبه کېږي: (34CFR 300.16)<br>1) ترلاسه شوي مقدارونه:<br>a) د قانون تر B برخې لاندې؛<br>b) د ESEA د I عنوان تر A برخې لاندې<br>c) د ESEA د III عنوان تر A او B برخو لاندې؛ او<br>2) هر ډول ايالتي يا ځايي بوديجې چې د هغو پروګرامونو لپاره لګول کېږي چې د ځانګړې برخې د a1 د تعريف په هره برخه کې د مرستې لپاره پر شرايطو برابر وي، اما د پانګې او يا پور د خدمت لپاره هر ډول مبلغونه ترې مستثنی دي. | *Excess Costs*<br>اضافي لګښتونه |
| ځانګړې زده کړې او اړوند خدمتونه چې: (34CFR 300.106(b))<br>1. معلوليت لرونکي ماشوم ته چمتو کېږي:<br>a. د تعليمي سيمه ييزې اداري له عادي تعليمي کال څخه ور هاخوا؛<br>b. د ماشوم د فردي تعليمي پروګرام سره سم؛<br>c. د ماشوم والدينو ته په وړيا ډول؛ او<br>2. هغه معيارونه بشپړ کړئ چې د ويرجينيا د پوهنې د رياست له لوري را منځته شوي دي. | *Extended School Year Services*<br>د غځول شوي تعليمي کال خدمتونه |
| له هغو پياوړي کوونکو څخه ځان ژغورل چې د اندېښنې چلند (BOC) ساتي تر څو د اندېښنې د چلن را منځته کېدل کم کړي. | *Extinction*<br>زده کړه |
| په تدريج سره د يوې غوښتنې د قدرت يا سرعت يا کومې بلې مرستې يا نښان کمېدل. | *Fading*<br>محوه کېدل |
| هره مرسته، پور، قرارداد يا بل ترتيب چې د هغې په وسيله د متحده ايالاتو د پوهنې وزارت مرستې د بوديجې، د فدرال پرسونل د خدمتونو يا ړښتيني يا شخصي ملکيت د قالب په توګه د لاسرسي وړ ګرځوي (34CFR 104.3(h)). | *Federal Financial Assistance*<br>د فدرال مالي مرسته |
| هغه ملاحظه چې شخصاً د کتونکي له لوري ليدل شوې (يا اورېدل شوې) او ژر تر ژره ريکارډ شوې وي. | *Formal Observation (Direct Observation)*<br>رسمي ملاحظه (مستقيمه ملاحظه) |
| ځانګړې زده کړې او اړوند خدمتونه چې: (34CFR 300.17)<br>1. په دولتي لګښت، تر دولتي څارنې او لارښوونې لاندې په وړيا ډول وړاندې کېږي؛<br>2. د ويرجينيا د زده کړو د پلاوي معيارونه بشپړ کړئ؛<br>3. په ويرجينيا کې مناسبې له ښوونځي څخه مخکې، د لومړني ښوونځي، منځني ښوونځي يا ثانوي ښوونځي زده کړې پکې شاملېږي؛ او<br>4. د زده کړې د يوه فردي پلان له مخې چمتو کېږي چې د دې څېرکي له معيارونو سره برابر وي. | *Free Appropriate Public Education (FAPE)*<br>وړيا مناسبې عامه زده کړې (FAPE) |
| د ملاحظې په يوه دوره کې چې يو چلند څو ځلې را منځته کېږي. | *Frequency*<br>تکرار |
| له داسي لاسوهنو څخه ګټه اخيستي چې د "ولې" د اندېښنې چلند را منځته کېږي پر بنسټ ولاړې وي (BOC را کموي په داسې حال کې چې بديل چلند ډېرېږي). | *Function Based Intervention*<br>د عمل پر بنسټ لاسوهنه |
| "ولې" يو چلند را منځه کېږي (د پاملرنې ترلاسه کول، ملموس/ فعاليتونه ترلاسه کول، تېښته/ مخنيوی کول، د حسي تحريک ترلاسه کول). | *Function of Behavior*<br>د چلند عمل |
| يوه پروسه چې د زده کوونکي د چلند لامل يا هغه بنسټيز عملونه تشخيص کړي چې د زده کوونکي يا د هغه د همزولو د زده کړې مخنيوی کوي. | *Functional Behavior Assessment*<br>د علمي چلند ارزونه |

| تعریف | اصطلاح |
|---|---|
| د سالمو زده کوونکو لپاره هغه نصاب چې د ځایي تعلیمي اېجنسیو، له ځایي اېجنسیو څخه پرته ښوونځیو یا، که مناسب وي، د ویرجینیا د پوهنې د ریاست له لوري له ښوونځي څخه مخکې تر ثانوي ښوونځي پورې ماشومانو لپاره منل شوی دی. دغه اصطلاح د نصاب په منځپانګې پورې تړاو لري، نه په هغه چاپېریال پورې چې په هغې کې تدریسیږي. | *General Curriculum (“General Education”)*<br>عمومي نصاب (”عمومي زده کړه“) |
| په یوه ځای کې یا یوه کس ته د تدریسیدونکي مهارت لیږد نورو ځایونو او خلکو ته. | *Generalization*<br>تعمیم |
| د چلند په اړه د راټولو شویو عیني معلوماتو بصري څرګندول لکه تکرار، وخت، شدت او ځنډ چې ټیم ته اجازه ورکوي تر څو د وخت په تیرېدو سره معلومات وګوري. | *Graphs*<br>ګرافونه |
| په یوه یا دواړو غوږونو کې د اورېدنې اختلال، له پیاوړي کولو سره یا له هغې پرته، که دایمي وي یا ځینې وخت، چې د زده کوونکي پر تعلیمي فعالیت ناوړه اغیزه کوي مګر د (34CFR 300.8(c)(5)) په برخه کې د ناشنوایی په تعریف کې نه راځي. | *Hearing Impairment*<br>د اورېدنې اختلال |
| هغه ښوونکی چې په 34CFR 300.18 کې یې په ټوله کې د ځانګړو زده کړو د ښوونکو لپاره مشخص شوي معیارونه بشپړ کړي وي، د هغو ښوونکو لپاره چې د ځانګړې زده کړې اصلي مضامین تدریسوي، د هغوی معیارونه یې بشپړ کړي وي، د ځانګړو زده د ښوونکو لپاره چې د بدیلې لاسته راوړنې معیارونه تدریسوي یا د ځانګړو زده کړو د ښوونکو لپاره چې څو ګوني مضامین تدریسوي چې د تدریس له (34CFR 300.18) غوښتنو سره سمون لري. | *Highly Qualified Special Education Teacher*<br>د ځانګړې زده کړې خورا مستعد ښوونکی |
| هغه خدمتونه چې د ماشوم د فردي زده کړې له پروګرام سره سم د کور په چاپېریال (یا بل هوکړه شوي چاپېریال) کې وړاندې کېږي. | *Home-based Instruction*<br>په کور کې زده کړه |
| هغه اکاډمیکه زده کړه چې داسې زده کوونکو ته چمتو کېږي چې په کور یا کوم روغتیایي مرکز کې ساتل کېږي او د مجوز ډاکتر یا کلینیکي اروا پوه له لارښوونې سره سم په عادي ښوونځي کې له حضور څخه منع شوي وي. د یوه معلولیت لرونکي ماشوم لپاره به د IEP ټیم د خدمتونو عرضه کول تعیین کړي، چې په هغوی کې به د خدمتونو د ساعتونو شمېر هم راځي (هغه اصول چې په ویرجینیا کې د دولتي ښوونځیو لپاره معیارونه را منځته کوي، 8VAC20-131-180). | *Homebound Instruction*<br>په کور کې د قید شوي شخص لپاره زده کړه |
| د ویرجینیا د قانونو له موادو سره سم په کور کې له والدینو، سرپرست یا بل مسوول کس څخه زده کړه چې عامه یا خصوصي ښوونځي ته د تګ لپاره یو بدیل ګڼل کېدای شي. دغه زده کړې ته ښایي په کور کې زده کړه هم وبلل شي (د ویرجینیا د کوډ § 22.1-254.1 برخه). | *Home Instruction*<br>د کور زده کړه |

| اصطلاح | تعریف |
| --- | --- |
| *Homeless Children*<br>بې کوره ماشومان | د مکني - وېښتو د بې کوره کسانو د مرستې د قانون په § 725 (42USC § 11434a) برخه کې د "بې کوره ماشومانو او ځوانانو" اصطلاح چې په 42USC § 11431 کې اصلاح شوی او تر هغې وروسته او لاندې ذکر شوي دي: (34CFR 300.19) د "بې کوره ماشومانو او ځوانانو" اصطلاح د هغو کسانو لپاره کارول کیږي چې د شپې لپاره ثابت، معمول او کافي ځای چې د مکیني - وېښتو د بې کوره اشخاصو د قانون په § 103(1)(a) برخه کې تعریف شوی، ونلري او لاندې کسان پکې راځي:<br>1. هغه ماشومانو او ځوانان چې د کور د له لاسه ورکولو، اقتصادي ستونزو، یا دې ته ورته دلایلو له مخې له نورو سره په کور کې اوسیږي؛ یا په مسافر خونو، هوټلونو، ټریلر پارکونو یا کمپونو کې د بدیل او مناسبو سرپناوو د نه لرلو له امله اوسیږي؛ د بیړني وضعیت یا په لنډمهالو سرپناوو کې اوسیږي؛ په روغتونونو کې بستري دي؛ د سرپرستې پاملرنې د ځای پر ځای کولو په انتظار کې دي؛<br>2. هغه ماشومان او ځوانان چې په اسې لنډمهاله د شپې ځای کې اوسیږي چې هغه عامه یا خصوصي ځای وي او د په معمول او منظم ډول د انسانانو لپاره د § 103(C)(2)(a) له تعریف سره سم د خوب لپاره نه کارول کیږ؛<br>3. هغه ماشومان او ځوانان چې په موټرو، پارکونو، عامه ځایونو، پریښو ودانیو، بې کیفیته کورونو، بس یا ریل سټیشنونو، یا ورته ځایونو کې ژوند کوي؛ او<br>4. کډوال ماشومان (لکه څنګه چې دا اصطلاح د 1965 د ابتدایي او ثانوي زده کړو قانون § 1309 کې تعریف شوې ده) څوک چې د بې کوره والي لپاره پر شرایطو برابر وي ځکه چې ماشومان په داسې شرایطو کې ژوند کوي چې د دې تعریف له 1 څخه تر 3 فرعي برخو کې تشریح شوي.<br>د "بې سرپرسته ځوان" په اصطلاح کې هغه ځوان شامل دی چې د مور او پلار یا سرپرست په فزیکي توقیف کې نه وي. |
| *Home Tutoring*<br>په کور کې ځانګړې تدریس | د یوه مربي یا ښوونکي لخوا تدریس چې د ویرجینیا د ښوونې او روزنې بورډ لخوا وړاندیز شوې وړتیاوې لري، په عامه یا خصوصي ښوونځي کې د ګډون لپاره د بدیل په توګه او د ویرجینیا د کوډ د احکامو سره سم د ځانګې سرپرست لخوا تصویب شوي وي. دغه تدریس په کور کې هغه زده کړه نه ده چې د ویرجینیا په کوډ کې تعریف شوې ده (د ویرجینیا د کوډ § 22.1-254 برخه). |
| *Hypothesis*<br>فرضیه | د اندیښنو له چلند سره د مخکینیو اړیکو بیان چې د ورکړل شویو پایلو لخوا تعقیب کیږي چې د چلند د فعالیت وړاندوینه کوي. |
| *Illegal Drug*<br>غیرقانوني درمل | یو کنټرول شوې ماده، خو هغه کنټرول شوې ماده پکې شامله نه ده چې قانوني بڼه لري یا د جواز لرونکي متخصص روغتیا پال تر څارنې لاندې کارول کیږي یا دا چې په قانوني توګه د کنټرول شویو موادو قانون (c) 812 § 21 USC، یا د فدرالي قانون د کوم بل احکام له مخې ((34CFR 300.530(i)(2)) کارول کیږي. |
| *Impartial Special Education Hearing Officer*<br>د ځانګړې زده کړې د اورېدنې بې پرې افیس | هغه کس چې د ویرجینیا د سترې محکمې د اجرایوي سکرتر دفتر لخوا ساتل شوې لیست څخه غوره شوی تر څو د اورېدنې مناسبه پروسه ترسره کړي. |
| *Implementation Plan*<br>د تطبیق پلان | هغه پلان چې د سیمه ایزې تعلیمي ادارې لخوا د دې لپاره رامینځته شوی چې د اورېدونکي افسر پرېکړه په هغو قضیو کې پلي کړي چې په بشپړ ډول قضاوت کیږي. |
| *Inclusive Practices*<br>ټولیز تمرینونه | هغه چلندونه چې د ښوونځي ټولنې او فعالیتونو ته د زده کوونکي هرکلی کوي. |
| *Incompatible Behavior*<br>ناسازګار چلند | هغه چلندونه چې یو کس یې په یوه وخت کې نشي ترلاسه کولای.  د بېلګې په توګه: کېناستل او درېدل له یو بل سره متضاد یا ناسازګار دي. |
| *Indirect Data Collection*<br>د غیر مستقمیو معلوماتو را ټولو | هغه معلومات چې د سوابو د کتنو، مرکو او کاري بېلګو له لارې را ټولیږي. |

| تعریف | اصطلاح |
|---|---|
| یوه ارزونه چې د ور ازموینو یا ازموینه اخیستونکو لخوا ترسره کیږي چې د هغې سیمه ییزې تعلیمي اداري لخوا ګمارل شوي نه دي چې د پوښتني ور ماشوم د تعلیم لپاره مسؤله ده ((34CFR 300.502 (a)(3)(i)). | *Independent Educational Evaluation*<br>خپلواکه تعلیمي ارزونه |
| د معلولیت لرونکي ماشوم لپاره لیکل شوی بیان چې له دې څېرکي سره سم یې د ټیم په غونډه کې پراختیا موندلې وي، بیا کتنه پرې شوې وي او اصلاح شوی وي. IEP د ماشوم انفرادي تعلیمي اړتیاوې او هغه ځانګړې زده کړه او اړوند خدمات مشخصوي چې د ماشوم د تعلیمي اړتیاوو د پوره کولو لپاره اړین دي (34CFR 300.22). | *Individualized Education Program or IEP*<br>د فردي زده کړې پروګرام یا IEP |
| د افرادو یوه ډله چې په 8VAC20-81-110 کې تشریح شوې ده چې د معلولیت لرونکي ماشوم لپاره د IEP جوړولو، بیاکتني، یا اصلاح مسوولیت لري (34CFR 300.23). | *Individualized Education Program Team*<br>د فردي زده کړې د پروګرام ټیم |
| یوه معلولیت لرونکي ماشوم او د ماشوم کورنۍ ته د لومړنۍ لاسوهنې د خدمتونو چمتو کولو لپاره لیکل شوی پلان چې د برخې C له مخې پر شرایطو برابر وي (34CFR 303.24؛ 20USC § 636 ). | *Individualized Family Services Plan (IFSP) under Part C of the Act*<br>د کورنیو خدمتونو فردي پلان (IFSP) د قانون تر C برخې لاندې |
| نوی زېږېدلی ماشوم تر دوه کلنۍ پورې، د هغو ماشومانو په ګډون چې د سپټمبر له 30 نېټې څخه مخکې یې د زېږون نېټه راځي، یا په C برخه کې د مخکې لاسوهنې په سیستم کې د شته خدمتونو د ترلاسه کولو لپاره پر شرایطو برابر وي تر درې کلنۍ پورې، یا هغوی چې: (§2.2-5300 د ویرجینیا کوډ؛ 34CFR 300.25)<br>1. په عمل کې ځنډ ولري؛<br>2. غیر معموله وده او چلند څرګندوي؛<br>3. داسې چلندي بې نظمي لري چې د وده ییزو مهارتونو په ترلاسه کولو کې مداخله کوي؛ یا<br>4. داسې تشخیص شوې فزیکي یا رواني ناروغي لري چې د ځنډ د را منځته کېدو لوړ احتمال ترې پیدا کیږي، ان که د اوس لپاره ځنډ موجود هم نه وي. | *Infant and Toddler with a Disability*<br>نوی زېږېدلی ماشوم او کوچنی |
| "رضایت" وګورئ. | *Informed Parental Consent*<br>د والدینو شعوري رضایت |
| د هغه ماشوم لپاره لومړنی ځایګاه چې په یوه سیمه ییزه تعلیمي اداره، د تعلیمي خدمتونه په بله اداره یا په بله عامه تعلیمي اېجنسۍ یا اداره کې ځانګړې زده کړې او اړوند خدمتونه ترلاسه کوي چې د ځانګړې زده کړې او اړوندو خدمتونو د چمتو کولو لپاره را منځته شوي وي. | *Initial Placement*<br>لومړنی ځایګاه |
| د زده کړې کچه هغه کچه ده چې زده کوونکی یې د یوه ښوونکي په مرسته ترسره کولای شي. | *Instructional Level*<br>د زده کړې کچه |
| د عمومي ذهني عمل تر عادي کچې څخه ډېر ښکته دی، له دې سره په هممهال توګه په انطباقي چلند کې نقص موجود وي او د ودې په دوران کې ښکاره هم څرګندېږي او د ماشوم پر تعلیمي فعالیت خورا بده اغېزه لري ((34CFR 300.8(c)(6)). | *Intellectual Disability*<br>ذهني معلولیت |
| هغه ځواک چې له چلند سره را منځته کیږي. | *Intensity*<br>شدت |
| د زده کوونکي له اوسنی ځایګاه څخه د بل تعلیمي چاپېریال یا پروګرام لپاره اصطلاح چې زده کوونکي ته دا وړتیا ورکوي تر څو د خپل فردي زده کړې د پلان له مخې د تعلیمي خدمتونو ترلاسه کولو ته دوام ورکړي. | *Interim Alternative Education Setting*<br>لنډ مهالی بدیل تعلیمي چاپېریال |

| اصطلاح | تعریف |
|---|---|
| *Interpreting Services*<br>د ژباړې خدمتونه | لکه څرنګه چې د ناشنوا یا په سختۍ سره د اوریدونکو ماشومانو لپاره کارول کیږي، د هغو خدمتونو په معنا دي چې د 408-81-VAC20 له مخې پر شرایطو برابرو کارکوونکو له لوري وړاندې کړئ او په دې خدمتونو کې د شفاهي ژباړې خدمتونه، د اشاروي ژبې د ژباړې خدمتونه، د ښنو ښانو د ژبې د ژباړې خدمتونه او د ترجمې او ترانسکرېپټ خدمتونه پکې شامل دي لکه اړیکو ته په لاسرسي کې د چټکې ژباړې (CART) خدمت، C-Print او TypeWell او د هغو ماشومانو لپاره د ژباړې خدمتونه چې کاڼه - ګونګیان دي. هغه ماشوم چې کوڼ نه دی او په سختۍ د اوریدنې ستونزه نلري، مګر ژبنۍ نقض لري، کولای شي د ماشوم د فردي زده کړې د پروګرام له لارښوونې سره سم د ژباړې خدمتونه ترلاسه کړي (هغه اصول چې د کاڼو یا په سختۍ اوریدونکو کسانو لپاره د ژباړې پر خدمتونو حاکم دي (22VAC20-30; 34CFR 300.34(c)(4)(i) |
| *Intervention*<br>لاسوهنه | هغه پروسه چې د بدلونونو د پلې کولو لپاره کارول کیږي. |
| *Intervention Team*<br>د لاسوهنې ټیم | له وړاندې د ماشوم د مطالعې د کمیټې په نوم یادیږي، د څو رېښه ییزې ستونزې د هوارولو ټیم دی. دغه ټیم په منظمه توګه لیدنې ترسره کوي تر څو د مشخص زده کوونکي په ځانګړو اړتیاوو پورې اړوندې سپارښتنې مشخصې، پلې او وړاندې کړي. |
| *Latency*<br>ځنډ | هغه زماني واټن ته اشاره کوي چې د یوه چلند د یوه ډول او یا رامنځته کېدو د چټکې یا لومړنۍ پېښې تر منځ تېرېږي. |
| *Least Restrictive Environment (LRE)*<br>تر ټولو په کمه کچه محدودوونکی چاپېریال (LRE) | معلولیت لرونکي ماشومان د امکان تر بریده په دولتي یا خصوصي موسسو کې او یا نورو ادارو او د پاملرنې په مرکزونه کې له غیر معلولو ماشومانو سره زده کړه کوي او ځانګړې ټولګې، جلا ښوونې او نور جلا کول هغه وخت په پام کې نیول کیږي چې معلولیت لرونکی زده کوونکی و نکړای شي په عامه ښوونځي کې له غیر معلولو زده کوونکو سره یو ځای د عامه زده کړې په چاپېریال کې له مرستندویه وسایلو سره مطوبه زده کړه حاصله کړي (34CFR 300.114 تر 34CFR 300.120) |
| *Level I Service*<br>د I کچې خدمت | معلولیت لرونکو ماشومانو ته د هغوی د تعلیمي ورځې له 50% سلنې څخه کمې ځانګړې زده کړې وړاندې کول (د خوړو د وختونو له ځنډونو څخه پرته). هغه وخت چې ماشوم پکې د ځانګړې زده کړې خدمتونه ترلاسه کوي، د ځانګړې زده کړې د هغو خدمتونو پر بنسټ محاسبه کیږي چې د فردي زده کړې په پلان کې تشریح شوي دي، نه د خدمتونو د موقعیت له مخې. |
| *Level II Service*<br>د II کچې خدمت | معلولیت لرونکو ماشومانو ته د هغوی د تعلیمي ورځې د 50% سلنې او یا تر هغې زیاتې لپاره د ځانګړې زده کړې او اړوندو خدمتونو وړاندې کول (د خوړو د وختونو له ځنډونو څخه پرته). هغه وخت چې ماشوم پکې د ځانګړې زده کړې خدمتونه ترلاسه کوي، د ځانګړې زده کړې د هغو خدمتونو پر بنسټ محاسبه کیږي چې د فردي زده کړې په پلان کې تشریح شوي دي، نه د خدمتونو د موقعیت له مخې. |

| تعریف | اصطلاح |
|---|---|
| یوه فرد ته په درناوي:<br>(20USC § 7801(25); 34 CFR 300.27)<br>1. هغه کسان چې عمر یې له 2 څخه تر 21 کلونو پورې وي؛<br>2. هغه څوک چې په لومړني یا ثانوي ښوونځي کې نوم لیکنې ته چمتووالی نیسي؛ یا<br>3. څوک:<br>a. چې په متحده ایالاتو کې زیږیدلي نه وي او یا داسې څوک چې اصلي ژبه یې انګلیسي نه وي؛<br>b. بومي امریکایي یا الاسکایي یا د لرې پرتو سیمو اوسیدونکی وي او له داسې چاپیریال څخه راځي چې هلته له انګلیسي څخه پرته کوم بلې ژبه د افرادو د انګلیسي ژبې پر مهارت خورا سخت اغیز کړی دی؛ یا<br>c. داسې کډوال وي چې اصلي ژبه یې له انګیسي څخه پرته کومه بله وي، او له داسې چاپیریال څخه راغلی وي چې هلته له انګلیسي ژبې څخه پرته بله ژبه حاکمه وي؛ او<br>4. په انګلیسي ژبه د خبرو کولو، لوستلو، لیکلو او پر انګلیسي باندې پوهېدو کې ستونزې د شخص د ردولود لپاره کافي وي:<br>a. د ویرجینیا په ارزونو کې د دې وړتیا چې د ویرجینیا د مهارت د کچې د لاسته راوړنې معیار بشپړ کړي؛<br>b. په هغه ټولګي کې د ښې لاسته راوړنې وړتیا چې د زده کړې ژبه پکې انګلیسي وي؛ یا<br>c. په بشپړه توګه په ټولنه کې د ونډې اخیستو فرصت. | *Limited English Proficient*<br>د انګلیسي ژبې محدود مهارت |
| د ښوونځي یوه ځایي څانګه چې د ښوونځي د ځایي پلاوي له لوري اداره کېږي، د ایالت په کچه یو پلې کېدونکی پروګرام چې د ویرجینیا د ذینفعانو او یا په ستونتون کې د ویرجینیا د بیا شنوایانو او نابینایانو د ښوونځي له لوري مالي تمویلېږي. نه د ایالت له لوري پلې کیدونکي پروګرامونه او نه په سټونټون کې د ویرجینیا د ناشنوایانو او نابینایانو ښوونځی د ښوونځي د څانګې په توګه په پام کې نه نیول کېږي ځکه چې دغه اصطلاح په دې اصولو کې کارول شوې ده (د ویرجینیا د کوډ § 22.1-346 C برخه؛ 34CFR 300.28). | *Local Educational Agency (LEA)*<br>ځایي تعلیمي اداره (LEA) |
| که چېرته د ایالت له لوري د پلې کېدونکو پروګرامونو په مرجع کې کارول کېږي چې په 8VAC20-81-30 H کې ذکر شوي دي، د هغو موقعیتونو په معنا دي چې تمه نه ده د ماشوم د طبي اړتیاوو له امله په وضعیت کې بدلون را منځته کړي. | *Long-term Placement*<br>اوږدمهاله ځای پر ځای کول |
| د ښوونځي د ادارې له لوري له اوسني موقعیت څخه په یوه تعلیمي کال کې له 10 تعلیمي ورځو څخه د ډېرې مودې لپاره یوه حذفونه؛ یا کله چې د حذفونو په یوه لړۍ محکوم شي چې یوه الګو ترې جوړه شي:<br>1. ځکه چې هغوی په یوه تعلیمي کال له 10 تعلیمي ورځو څخه ډېرې جمع کوي؛<br>2. ځکه چې د ماشوم چلن په بشپړه توګه د هغه چلن په څېر وي چې تر دې د مخه پېښو کې ښودل شوی و او د حذفونو د لړۍ لامل شو؛ او<br>3. چې د داسې اضافي فکټورونو له امله وي لکه د هر حذفوني اوږدوالی، د ټولو حذفونو شمېر، او یوه بل ته د حذفونو نږدېوالی. | *Long-term Removal*<br>اوږدمهاله حذف کول |
| د ټولو اړوندو معلوماتو د او د زده کوونکي د معلولیت او هغه چلند تر منځ د اړیکو د ارزولو پروسه چې له امله یې انضباطي اقدام ترسره شوی دی. | *Manifestation Determination Review (MDR)*<br>د څرګندولو د تعیین بیا کتنه (MDR) |
